# زېتون بانو د پښتو افسانې یو ځلنده باب

نورالبصر امن، محمد جاوېد خلیل

**Abstract**

The evolution of Pashto short stories (afsana) has been divided into two periods, before independence and after independence. Among the prominent short story writers, after independence, Ms. Zaitoon Bano is the leading personality. She has discussed the matters of women of Pashtoon society boldly and frankly. Her short stories has the standard of international literature. Here in this research paper her short stories have been critically evaluated.

په زنانوؤ لیکوالو کښې چې پښتو افسانې ته چا زیات پام لرلے دے په هغې کښې یو لوئے نوم د مېرمن زېتون بانو هم دے. د پښتو او اردو او بیا په خصوصي توګه افسانوي ادب سره چې څوک لږه ډېره علاقه هم لري نو هغوي به زېتون بانو خامخا پېژني ځکه چې زېتون بانو عموماً په ټولو اصنافو کښې او په خصوصي توګه په پښتو افسانه کښې ډېر لوے زیار کړے دے. ډاکټر شاهجهان د زېتون بانو پېژندګلو داسې کړې ده.

مېرمن زېتون بانو په اتلسم جون کال ۱۹۲۸ء کښې د پېښور د خلېلو د تپې په مشهور کلي سپینه وړی کښې زېږېدلې ده. د دوي د پلار نوم سید سلطان محمود ؤ چې د رېډیو پاکستان په محکمه کښې ئې په یوه ذمه داره عهده کار کولو.

زېتون بانو د یوې علمي کورنۍ سره تعلق لري د خاندان اکثر کسان ئې د ښهٔ علم خاوندان دي. د دوي نیکهٔ سید عبدالقدوس تندر د خپل وخت ښهٔ شاعر او صحافي ؤ.[1]

په پښتون معاشره کښې د یوې جینۍ د پاره په هغه زمانه کښې تعلیم حاصلول د اوسپنې نینې چیچل وو خو دا د زېتون بانو خوش قسمتي وه چې د پېښور غونده د علم او هنر په ښار کښې ئې په یوه داسې کورنۍ کښې سترګې اوغړولې چې هغوي د تعلیم سره سره د ادب په اهمیت هم پوهه وو. او هم دغه وجه وه چې زېتون بانو د ښار په معیاري او اوچتو ادارو کښې

تعليم حاصل کړو. د تعليم د حصول سره ورته په کور کښې هم ښۀ ادبي ماحول ملاؤ شوے وو چې د بانو فطري ادبي جذبې ئې رابرخېره کړې.

هسې خو زېتون بانو د ادب په هر صنف کښې طبع آزمائي کړې ده خو د افسانې سره ئې پوره پوره انصاف کړېدے.

زېتون بانو پښتو افسانې ته دومره څۀ بخښلي دي چې د ايوب صابر غوندې ستر ليکوال په دې وېنا مجبوره شوے دے چې،

> پشتو ادب میں لکھنے والیاں ایک ہاتھ کی انگلیوں پر گنی جا سکتی ہیں اور ان میں سے جو دو لکھنے والیاں ادب کی جدید ترین اقدار کا ساتھ بڑی جرات اور بے باکی سے دیتی رہی ہیں وہ زیتون بانو اور فوزیہ انجم ہیں۔ فوزیہ انجم کا میدان ابتداء ہی سے شاعری رہا اور شادی کے بعد وہ اس میدان سے آؤٹ ہو گئی۔ زیتون بانو ادب کی ہر محاذ پر اب بھی ڈٹی ہوئی ہے اور نظم و نثر کی جملہ اصناف پر حاوی ہیں۔ خاص طور پر افسانوں کے میدان میں تو اتنی آگے ہیں کہ ان کو جا لینا یا ان سے آگے بڑھ جانا سوائے چند افسانہ نگاروں کے اور کسی کے بس میں نہیں ہے۔[2]

ترجمه: پښتو کښې زنانه ليکوالې د ګوتو په شمېر دي ـ په دې کښې دوه ليکوالې د ادب د نوؤ تقاضو سره ډېرې په بهادرۍ او بې باکۍ مخ په وړاندې رواني دي. چې يوه زېتون بانو او بله فوزيه انجم ده. د فوزيه انجم مېدان د شروع نه شاعري ده او د وادۀ نه پس هغه د دې مېدان نه پناه شوې ده. او زېتون بانو د ادب په هر ډګر اوس هم مقابله کوي او د نظم او نثر په ټولو اصنافو کښې طبع آزمائي کوي. په خصوصي توګه د افسانې په مېدان کښې خو دومره مخکښې ده چې د دې نه مخکښې کېدل د يو څو کسانو نه علاوه د نور چا په وس کښې نۀ ده.

د افسانې ليکلو ځانله فن او تکنيک دے چې د فن او تکنيک په چوکاټ دننه کومه افسانه تخليق شي هغه معياري افسانه ګڼلے شي. په افسانه کښې پلاټ، کردارونه او مکالمې داسې بنيادي خبرې دي چې د دې صحيح انتخاب، چست والے، سسپنس او تر آخره په افسانه ګرفت مضبوط ساتل د اوچت فنکار د فنکارۍ نخښې دي.

زېتون بانو د فن او تکنيک په لحاظ نۀ صرف د پښتو افسانې بلکې د اردو افسانې ئې ښۀ حق ادا کړےدے او هره افسانه ئې د فن او تکنيک د کاڼو په تول پوره خېژي چې د زېتون بانو د فطري افسانوي رجحان ښکاره دليل دے.

پروفېسر افضل رضا د زېتون بانو د افسانوي فن په حواله ليکي چې

> د پښتو افسانې په مېدان کښې چې هغې په لږه موده کښې د ترقۍ کوم اوږد منزل تر سره کړۀ هغه د هغې د روښانه فکر او ادبي صلاحيتونو عکاسي کوي. د بانو افسانې کرداري هم وي، ماحولي هم، واقعياتي هم، خو کله کله هغه د کردار، ماحول او واقعياتو په رڼا کښې يو ځائے د افسانې داسې شاهکار هم وړاندې کړې چې لوستونکي ورته حېران پاتې شي. په يوه لنډه شان افسانه کښې ګڼې خوبۍ ځايول د ښې افسانې لوئے صف دے او دغه صفت د بانو په اکثرو افسانو کښې جوت دے.[3]

زېتون بانو د پښتو په افسانوي ادب کښې د پينځو کتابونو اضافه کړې ده چې پکښې هنداره، مات بنګړي، ژوندي غمونه، خوبونه او نېزه وړې شامل دي. په اردو کښې ئې شيشم کا پته، وقت کي دهليز پر، برگدھ کا سايه دي چې اکثر ترجمې دي او څۀ پکښې طبع زاد هم دي.

هنداره: هنداره د زېتون بانو د اولني دور افسانوي کوشش دے خو په ټول پوره کوشش دے. په دې کتاب کښې نهه افسانې او دوه ډرامې شاملې دي چې پکښې ئې د پښتنو زنانوؤ مسئلې لکه د هندارې پړقولې دي.

ډاکټر اعظم صيب د دې کتاب په حقله ليکي چې .....

> د هندارې د افسانو موضوعات زنانه موضوعات دي. ماحول ئې هم د کور دے او هم کورنې. او په دې الا بلا ماحول کښې د بانو مشاهده او مطالعه ډېره ساهو او رښتونې ښکاري.[4]

## ١ مات بنګړي

دا د زېتون بانو دوېمه افسانوي مجموعه ده څنګه چې د دې مجموعې د نوم نه ظاهره ده چې بنګړي د زنانوؤ سره تعلق لري. دغه شان دا افسانې هم د زنانوؤ د مسائلو نه تاؤ راتاؤ کېږي او بانو خپل ژوند او فن د صنفِ نازک د پاره مخصوص کړے دے. بانو چې په کوم چارپېرچل کښې ژوند کړېدے هغه ټول حقيقتونه ئې د قلم په ژبه په خپل خاص هنر افسانې ته سپارلې دي. څنګه چې افسانه د درنو مسائلو د اظهار او بيانولو مېدان دې. زما په خيال بانو ځانته په نثري ادب کښې د دې صنف انتخاب کړے دے.[5]

## ٢ ژوندي غمونه

دا مجموعه د زېتون بانو درېمه مجموعه ده، په دې مجموعه کښې د فن او تکنیک په لحاظ پوره دولس افسانې شاملې دي. مقدمه پرې پروفېسر افضل رضا لیکلې ده. د دې افسانو موضوعات هم لکه د بانو د روایت مطابق ښځینه دي. زیاتې پکښې جنسي مسئلې چېړلې شوې دي په دې وجه بعضې ناقدین دې ته د جنسیاتو ګوته نیسي خو دا د زېتون بانو یو ډېر لوئې همت او حوصله ده چې داسې قسم مسئلې ئې ډېر په زړورانداز د قلم په څوکه راوړاندې کړې دي. او دا حقیقت هم دے چې د زنانوؤ مسئلې او د هغوي نفسیات هم جنس ډېر په ښهٔ انداز کښې محسوس کولے او بیانولے شي. کهٔ چرته زېتون بانو دا جرات نهٔ وے کړے نو د صنفِ نازک ډېرې مسئلې به هم دغه شان پټې پاتې شوې وے.

> د یوې ښځې له قلمه چې د ښځې د کردار په دې اړخ باندې په ډېر فطري رنګ کښې څهٔ لیکلې شوې دي هغه د پښتو افسانې په تاریخ کښې یو اجتهادي قدم دے او داسې ښکاري چې په پښتو ادب کښې د عصمت چغتائي او قرة العین حېدر د پوره کېدو وخت راغلے دے.[6]

## ٣ خوبونه

د زېتون بانو څلورمه افسانوي مجموعه ده. په دې مجموعه کښې شپاړس ښې د اوچت معیار افسانې شاملې دي او نزدې نزدې موضوعات ئې هم د دې نورو افسانو په نقشِ قدم تلي دي.

## ٤ نېزه وړې

په نیزه وړې کښې یوویشت افسانې په تول پوره شاملې دي. دا کتاب د شمېر او ضخامت په لحاظ په دې نورو مجموعو یو څو ګیتې درون دے.

## ٥ زما ډائیري

اکثر خلق خپل روزانه حالات د روزنامچې په صورت کښې قلم ته سپاري. زېتون بانو هم د خپل ژوند څهٔ حالات، واقعیات او احساسات په دې فن پاره کښې راغونډ کړې دي. هسې خو زما ډائیري اوولس مختلف لیکونه دي او افسانې پکښې صرف درې دي.

د يو زنانه ليکوالې د پاره دومره په ګڼ تعداد کښې معياري افسانې ليکل او هغه چاپ کول د پښتو او پښتنو سره نۀ صرف بې کچه مينه ده بلکې د بانو په لوړ همت، حوصله او قابليت دلالت کوي.

زيتون بانو د خپل ليک د پاره او په خصوصي توګه د افسانې د پاره ډيره ساده او خوږه ژبه استعمال کړې ده. مبهمې جملې، بازاري الفاظ او دغه قسم نورو ډيرو خبرو نه ئې ځان ساتلے دے ځکه خو ئې فن ځلا کوي.

> د بانو د افسانو ژبه ځانته خواږۀ لري. دا خواږه د ژبې د سوچه والي په وجه يو په دوه دي. د بانو افسانې د افسانو نه علاوه د پښتو د سوچه او خوږ نثر ښکلې نمونې دي چې د لوستونکي پرې د سوچه پښتو لوستو تنده ماتيږي. هغه په غېر ارادي توګه سوچه پښتو کښې افسانې ليکي او په شعوري توګه دا محسوسوي چې د معياري افسانې د پاره چې څنګه پلاټ، واقعات، اسلوب او کردارونه ضروري دي دغه شان د سوچه او خوږې ژبې غوښتنه هم کوي.[7]

د سوچه، ساده او روان ليک په وجه د زيتون بانو فن پارې هر څوک ښۀ په اسانه لوستے شي. د څۀ تشريح يا د غور ضرورت پکښې نه پيښيږي. او دا د لوئے ليکوال غټه نښخه ده چې د عوامو سره د عوامو په ژبه کښې خبرې کوي او عوام صرف په عامه ژبه پوهيږي او دا عواميت د بانو په افسانو کښې جوت دے. چې د دې فن ئې د عروج په بام خيژولے دے.

پښتانۀ اکثر ناخوانده دي او په زنانوؤ کښې خو دا شرح ډيره سېوا ده خو چې څوک لږ هم لوست کولے شي هغوي په اسانه د بانو افسانې لوستے شي.

د زيتون بانو د افسانو تهيم د صنفِ نازک مسئلې او د دې تقريباً ټولې افسانې د دې نه چاپيره چورلي. بانو د زنانوؤ پټ، ښکاره، معاشرتي، اخلاقي، معاشي، نفسياتي او جنسي کړکيچونه په خپل اصلي شکل کښې ښودلې دي.

> زیتون بانو نے اپنے افسانوں میں عورت کی جو نمائندگی کی ہے اس سے اندازہ ہوتا ہے کہ انہوں نے ہر عمر کی عورت کا بڑا گہرا مطالعہ کیا ہے۔ نہ صرف ان کے جنسی المیوں کو بیان کیا ہے بلکہ ان کے اخلاقی پہلوؤں کو نمایاں کیا ہے۔ سچ تو یہ ہے کہ انہوں نے روایتی موضوعات میں تنوع پیدا کرنے کی کوشش کی ہے اور جو کچھ محسوس کیا ہے اسے بلاجھجک قرطاس و قلم کے حوالے کیا ہے اور یہ حقیقت ہے کہ ان کی کہانیوں نے پشتو افسانے کو جدید رجحانات سے روشناس کیا ہے۔[8]

پښتو ترجمه: زېتون بانو چې په خپلو افسانو کښې د ښځې کوم وکالت کړے دے د دې نه دا اندازه په اسانه کېږي چې هغې د هر عمر د ښځې ډېره ژوره مطالعه کړې ده. نۀ صرف د دوي جنسي حادثې ئې بيان کړې دي بلکې اخلاقي اړخونه ئې هم څرګند کړې دي او رښتيا خبره دا ده چې هغې په روايتي موضوعاتو کښې د لچک پيدا کولو کوشش کړے دے او چې څۀ ئې محسوس کړې دي هغه ئې بغير د پس و پيش نه کاغذ او قلم ته سپارلې دي او دا حقيقت دې چې هغي پښتو افسانه د نوې رجحاناتو سره اشنا کړه.

زېتون بانو د افسانې په دې زغل کښې د روايتي قدم په ځائے اجتهادي قدم پورته کړے دے. زېتون بانو په دې اجتهادي جهاد کښې خپل قدم لکه د تورې چلولے دے. د ډېرو زړونو او ذهنونو پردې ئې شلولې دي او چې څۀ ئې ليدلي يا محسوس کړي دي هغه ئې من و عن قلم ته سپارلي دي. دغه حقيقت په ډاګه کول زمونږ د معاشرې عصري تقاضه ده. او هم دې د زېتون بانو فن پارې د مقصدي ادب حصه ګرځولے ده.

> محترمہ زیتون بانو کی حقیقت نگاری نے ان کو افسانے کے میدان میں ملک گیر شہرت دلائی ورنہ ان سے پہلے ہم دیکھتے ہیں کہ سوائے چند ایک کے پشتو افسانے پر ایک مریضانہ رومانویت کی فضا طاری تھی۔ جس نے افسانے کے منظر نامے کو بوجھل بنا دیا تھا۔[9]

پښتو ترجمه: د محترمې زېتون بانو حقيقت پسندي هغې له د افسانې په مېدان کښې په ټول ملک کښې پېژندګلو ورکړه که مونږ د دې نه مخکښې ګورو نو د يو څو نه علاوه په پښتو افسانه يو ناروغه روماني فضا خوره وه چې د افسانې منظرنامه ئې بې خونده کړې وه.

زېتون بانو د خپلو افسانو په ذريعه پښتنو زنانوؤ ته نه صرف صحيح لار ښودنه کړې ده بلکې هغوي نه ئې د يو لور، خور، خوابښې او اينګور د مثالي کردار د ادا کولو غوښتنه کړې ده. او کۀ چرته ئې پښتنه معاشره کښې د سړي يا ښځې پښه ښوېدلې ليدلې ده نو په هغه کردار ئې ښۀ د طنز غشي ورولي دي. او په شعوري توګه ئې د پښتون معاشرتي ژوند ښۀ کولو کوشش کړے دے. او داسې په خپل کوشش کښې کامیابه هم ده.

> د بانو مثال د ژوند په لار د هغې شمعې دے چې راتلونکو پښتنو جينکو ته د ډاډ او حوصلې لاره ښائي او د دوي راهنمائي کوي. د دوي د بې شمېره افسانو نه دابرېښې چې دا يو شعوري کوشش هم کوي چې دوي دې په خپلو پښو اودرېږي. ښۀ ژوند دې تېر کړي او د علم د رڼا يا د تعليم په اهميت ئې پوهوي چې څنګه د معاشرې مثالي کردارونه شي او د خپل همت او حوصلې په لار به خپل دغه د تيرو ژوند رڼا کړي.[10]

د زېتون بانو نۀ صرف په پښتو افسانه د فن ګرفت مضبوط دے بلکې په اردو کښې ئې هم ښۀ معياري افسانې ليکلې دي. د اردو افسانې ئې په پښتو او د پښتو افسانې ئې په اردو کښې ترجمه کړي دي. د ترجمې په شکل کښې ئې په دواړو ژبو احسان کړے دے ځکه خو د بانو د قدر وړ دې کوشش د اردو اديبان هم متاثره کړې دي او د ستر ليکوال احمد نديم قاسمي د بانو افسانوي فن په دې الفاظو ستائيلې دي.

> سرحد کی معاشرت کی جو عکاسی اور نمائندگی زیتون بانو نے کی ہے وہ فکشن کی دنیا میں قطعی طور پر منفرد ہے۔[11]

پښتو ترجمه: د سرحد د معاشرې چې کومه نقشه زېتون بانو راښکلې ده هغه د افسانوي ادب په دنيا کښې بيخي ځانګړې حيثيت لري.

زېتون بانو خپل حق ادا کړے دے او تر خپله وسه ئې د پښتو ژبې او ادب، د افسانې د فن او د پښتنو زنانوؤ ئې د قلم په ژبه ښۀ خدمت کړے دے او خصوصاً زنانه افسانه نګارو له پکار دي چې د بانو دا منفرد اجتهادي افسانوي فن په مخه بوځي.

د زېتون بانو د افسانو د مطالعې نه پس مونږ په دې نتيجه رسو چې افسانه نګارې زمونږ د ټولنيز ژوند کومې مسئلې په خپلو افسانو کښې په ګوته کړي دي که چرته د دې مسئلو په سنجيدګۍ سره د ختمېدو کوشش وشو نو زمونږ معاشره به د ډېرو خرابو نه بچ شي .. دغه مسئلې زمونږ د ټولنې د هر دوېم کور مسئلې دي خو تراوسه يې د ښکاره کولو جرأت ډېرو کمو ليکوالو کړے دے . په اردو افسانه کښې دغه رنګ مونږ ته د عصمت چغتائي په افسانو کښې په نظر راځي او په پښتو کښې دغه قدم زېتون بانو پورته کړے دے .

# حوالې

[١] پروفېسرډاکټرشاهجهان، پښتو ادب کښې د ميرمنو برخه، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون

[٢] ايوب صابر، جديد پشتو ادب، شاهين برقي پريس پشاور، ١٩٨۴ء، صفحه ١٩١

[٣] پروفېسر افضل رضا، مقدمه ژوندي غمونه د زېتون بانو افسانوي مجموعه، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ٢٠٠۴ء، دريم چاپ، مخ ۵

[٤] پروفيسرډاکټرمحمداعظم اعظم، پښتو افسانه، عظيم پبلشنګ پېښور، ١٩٨٦ء، مخ ١۴٨

[٥] پروفېسرډاکټر سلمیٰ شاهين، زيتون بانو فن او شخصيت، مجله پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، نومبر.دسمبر ١٩٩۵ء، مخ ۵٧

[٦] پروفيسر ډاکټر محمد اعظم اعظم، پښتو افسانه، عظيم پبلشنګ پېښور، ۱۹۸۶ء، مخ ۱۵۰-۱۵۱

[۷] پروفيسر افضل رضا، پينځه شمعې، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۶ء، مخ ۲۶۶

[۸] پروفيسراسير منګل،پشتو افسانے کے سو سال، دانش کتب خانه پشاور، ۲۰۰۲ء، ص۴۵-۴۴

[۹] اباسين يوسفزے، زيتون بانو فن او شخصيت، مجله پښتو پښتو اکيډيمي پېښور پوهنتون، نومبر.دسمبر ۱۹۹۵ء، مخ ۹۵

[۱۰] پروفېسرډاکټرسلمیٰ شاهين، زيتون بانو فن او شخصيت، مجله پښتو، پښتو اکيډيمي پېښور پوهنتون، نومبر.دسمبر ۱۹۹۵ء، مخ ۵۵

[۱۱] نديم احمد قاسمی، تاثرات، ژوندي غمونه، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۰۴ء، دريم چاپ، مخ ۷